## د ټاکنو خپلواک کميسيون پرېکړه ليک

| | |
|---|---|
| شمېره: | ۳۳- ۱۳۹۳ |
| موضوع: | د ولسمشريزو ټاکنو د دويم دور د رأيې ورکونې ټولو محلونو د تفتيش له پاره د رأيو د بيا شمېرنې او باطلولو معيارونه؛ |
| ځانګه: | د ټاکنو خپلواک کميسيون دارالانشاء |
| د غونډې نېټه او ځای: | د ۱۳۹۳ کال د زمري ۸مه، (د ۲۰۱۴ کال د جولای۳۰ مه) د ټاکنو خپلواک کميسيون مرکزي دفتر. |
| حاضر غړي: | ښاغلی ډاکتر احمد يوسف نورستاني، ښاغلی عبدالرحمن هوتکي، آغلې ګلالی اڅکزی، ښاغلی سرير احمد برمک، ښاغلی پوهاند محمد حسين ګرزيواني، ښاغلی محمد عزيز بختياري، ښاغلی قاضي سليمان حامد، آغلې ليلا احراري اوآغلې شريفه زرمتی وردک. |

د ټاکنو خپلواک کميسيون د ټاکنو خپلواک کميسيون او ټاکنيزو شکايتونو د خپلواک کميسيون د صلاحيتونو، دندو او تشکيل قانون د ۱۳ مې مادې او د ټاکنو قانون د ۵۸ او ۵۹ مادو د حکمونو پر اساس او د ولسمشريزو ټاکنو د دويم دور ټاکنو د نوماندانو تخنيکي پرېکړې په چوکاټ کې پرېکړه وکړه چې:

**۱ . په لاندې حالاتو کې د رأيو بيا شمېرنه تر سره کېږي:**

الف ) . د رأيو په صندوق کې د ټولو ټاکنيزو توکيو څېړنه:

- په هغه صورت کې چې د پايلو د فورمې کاپي په صندوق کې نه وي موجوده او په هغې کې د لاسوهنې شواهد موجودي وي.
- په هغه صورت کې چې د پايلو په فورمه کې د ثبت شويو رأيپاڼو ټولګه ( معتبرې، باطلې، ضايع شوې و نا کارول شوې) له ۶۰۰ څخه ډېرې وې.
- په هغه صورت کې چې په صندوق کې دننه د پايلو د فورمې په کاپي او د پايلو له ملي مرکز څخه تر لاسه شوې پايلو فورمې په اصل کې د ثبت شويو رأيو پاڼو تر منځ ځرګند توپير موجود وي.
- په هغه صورت کې چې د رأيې ورکوونکيو ليسټ نه وي موجود، سپين يا خالي وي او يا د رأيې ورکونې د لس کارتونو مسلسل شمېرې سره په کې ثبت شوي وي.
- په هغه صورت کې چې د پايلو په فورمه او د رأيې ورکوونکيو په ليسټ کې د رأيې ورکوونکيو په شمېر کې ۵۰ سلنه توپير موجود وي.
- په هغه صورت کې چې د رأيې پاڼو صندوق دومره تخريب او مات شوی وي، چې لاس په کې ننوځي او يا يې مهراو لاکونه دومره سست وي چې صندوق ته لاس ننوځي.
- په هغه صورت کې چې د صندوق دوه يا زيات مهراولاکونه مات او تخريب شوي وي او يا په کې د ښکاره لاسوهنې شواهد موجود وي او يا هم د صندوق د شاوخوا د مهراو لاکونو شمېرې په صندوق کې دننه د مهراو لاکونو د ثبت فورمې له شمېرو سره ورته والی او مطابقت ونه لري.

**ب). د رأيې پاڼو بصري څېړنه:**

- که چېرې د رأيو پاڼو د څېړنې په ترڅ کې کم له کمه ۲۰ رأيې پاڼې ( ۴ بنډله ) په ورته يا يوشان نښه شوي وي، يا د طرزالعمل مطابق نه وي نښه شوي، د دغه صندوق رأيې پاڼې بيا شمېرل کېږي.

**۲. په لاندې حالاتو کې رأيې پاڼې باطلېږي:**

- هغه نښه شوې رأيې پاڼې چې له کندې څخه نه وي بېلې شوې،
- هغه رأيې پاڼې چې تأييدي مهر ونه لري.
- هغه رأيې پاڼې چې د طرزالعمل مطابق نه وي نښه شوي.
- د رأيې ورکونې د يو بل مرکز رأيې پاڼې چې په صندوق کې موجودې وي (د دغه مرکز اړوند د يو بل محل رأيې پاڼې سره بېلېږي او په اصلي محل کې شمېرل کېږي. چې په دواړو حالتونو کې بيا شمېرنه تر سره کېږي )
- **<u>ورته يا مشابه نښه شوې رأيې پاڼې:</u>** د هغه محل ټولې رأيې پاڼې بيا

شمېرل کېږي چې ۱۵ سلنه يې په روښانه توګه ورته يا يو شان نښه شوي وي. چې په مساوي توګه به د دواړو نوماندانو په رأيې پاڼو کې حساب شي. ورته يا يو شان نښه شوې رأيې پاڼې به له بيا شمېرنې بهير څخه ووېستل شي. دغه ۱۵ سلنه رأيې پاڼې هغو قضيو ته نه اطلاقېږي چې د يو صندوق ټولې رأيې پاڼې د لاندې دلايلو پر اساس د شمېرنې له بهير څخه اېستل کېږي.

**۳. په لاندې حالاتو کې صندوقونه باطلېږي:**

- په هغه صورت کې چې د رأيې پاڼو صندوق هغه بڼه ونه لري چې د کميسيون له خوا د ولسمشريزو ټاکنو د دويم دور له پاره توزيع شوي وو.
- په هغه صورت کې چې رأيې پاڼې په صندوق کې موجودې نه وي، يا يې يوه رأيې پاڼه هم ټاپه شوې نه وي، يا ټولې رأيې پاڼې د طرزالعمل مطابق نه وي نښه شوې، يا يې ټولې رأيې پاڼې په څرګنده توګه يوشان نښې ولري، يا ټولې رأيې پاڼې له کندې څخه نه وي بېلې شوي.
- په هغه صورت کې چې د رأيې ورکونې محل په ژورنال کې له زور څخه د استفادې، د جګړې د پېښېدو او يا د ټاکنيزو کارکوونکيو له کنټرول څخه ټاکنيزو توکيو د کنترول له لاسه ورکولو ريپورټ موجود وي.
- په هغه صورت کې چې د رأيې ورکوونکيو ليست ورک شوی وي او يا سپين وي، يا ۳۳ سلنه رأيې پاڼې مهر ونه لري ، يا د طرزالعمل مطابق نه وي نښه شوي، يا يو شان څرګندې نښې ولري او يا له کندې څخه نه وې بېلې شوې.
- په هغه صورت کې چې د رأيې ورکوونکيو په ليست کې له لسو څخه زيات د رأيې ورکونې کارتونه په مسلسلو شمېرو سره ثبت شوي وي، يا ۳۳ سلنه رأيې پاڼې مهر ونه لري ، يا د طرزالعمل مطابق نه وي نښه شوي، يا څرګندې يو شان نښې ولري او يا له کندې څخه نه وې بېلې شوې.
- په هغه صورت کې چې د رأيې پاڼو صندوق دومره مات او تخريب شوی وي، چې لاس په کې ننوځي او د پايلو په فورمه او د رأيې پاڼو په بنډولونو کې د لاسوهنې څرګند شواهد موجود وي.
- په هغه صورت کې چې د رأيې پاڼو د صندوق دوه يا له دوو څخه زيات مهر او لاکونه مات شوي وياو د لاسوهنې څرګند شواهد په کې موجود وي. يا مهر او لاکونه دومره سست وي چې صندوق ته لاس ننوځي او د رأيې پاڼو په بنډل او د پايلو په فورمه کې د لاسوهنې څرګند شواهد موجود وي.
- په هغه صورت کې چې د صندوق دوه يا زيات مهر او لاکونه په صندوق کې دننه د مهر او لاک د ثبت فورمې له شمېرو سره ورته والي او مطابقت ونه لري او د رأيې پاڼو په بنډل او د پايلو په فورمه کې د لاسوهنې څرګند شواهد موجود وي.

**ورک شوي او تخريب شوي صندوقونه:**

- د هغو صندوقونو د څېړنې پر مهال چې ورک شوي وي او یا د ځینو نورو دلایلو له امله شتون ونه لري، مات او یا تخریب شوي وي، له ټولو هغو معلوماتو او ریپورټونو څخه استفاده کېږي چې له کمیسیون سره موجود دي او یا له  نورو سرچینو څخه ترلاسه شوي دي.

د تفتیش بهیر ـ د تفتیش د چک لیست د بیا کتنې، بیا شمېرنې او د رأیو د باطلولو په اړه د کمیسیون تصمیم باید د ټاکنو خپلواک کمیسیون او ټاکنیزو شکایتونو د خپلواک کمیسیون د صلاحیتونو، دندو او تشکیل قانون د ۱۳ مې مادې پر اساس د نوماندانو، استازیو او کتوونکیو پر وړاندې ونیول شي.

| د پرېکړې مخالف | د غړیو نومونه | د پرېکړې موافق |
|---|---|---|
| | ښاغلیډاکتر احمد یوسف نورستانی | |
| | ښاغلی عبدالرحمن هوتکی | |
| | آغلېګلالی اڅکزی | |
| | ښاغلی سریر احمد برمک | |
| | ښاغلی پوهاند محمد حسین ګرزیواني | |
| | ښاغلی محمد عزیز بختیاري | |
| | ښاغلی قاضي سلیمان حامد | |
| | آغلې لیلا احراري | |
| | آغلې شریفه زرمتی وردک | |